شگوفه امینی

# په متحده ایالاتو او کینګ کاونټي مالي او بانکي مدیریت

King County

PORSESH POLICY RESEARCH INSTITUTE
Fact-based Analysis & Solutions

# پرسش څېړنیز انستیټیوټ (PR)

- د آنستیټیوټ په اړه:

د پرس څېړنیزه موسسه ژمنه ده چې کډوال به پیاوړي کوي او له هغوی څخه به ملاتړ کوي. موږ هڅه کوو چې د څېړې، معلوماتو (ډیټا) او د له ټولنو سره د یو ځای کولو (ادغام) خدمتونو،ښوونیزو پروګرامونو له لارې موږ هڅه کوو چې برابري، اګاهانه پالیسي جوړونه او د غوره خدمتونو وړاندې کول یقیني او حمایه کړو.

- کړنې

**څېړنه** – د داسې څېړنو ترسره کول چې د مثبت او مانادار بدلون د رامنځته کولو په پار له پالیسیو او پروګرامونو سره مرسته وکړي.

**د کډوالو د ملاتړ او له ټولنو سره د یو ځای کولو خدمتونه**– د خدمتونو وړاندې کول، ملاتړکوونکې روزنه او لارښوونه چې له ټولنو سره په ښه توګه یو ځای کېدنه اسانه کړي.

**باکیفیته زده کړې**– د پوهاوي په موخه د ښوونیزو پروګرامونو او ورکشاپونو او نورو پروګرامونو جوړول.

**د معلوماتو (ډیټا) پر بنسټ مدني ګډون او ملاتړ** – د اسنادو او معلوماتو پر بنسټ د ملاتړ له لارې د ټولنو ځواکمنول

**د سلا مشورو خدمتونه**– د تخصص په برخو کې سلا مشورې او له اغېزناکو او مثبتو نوښتونو څخه د ملاتړ لپاره د خپلو تجربو شریکول.




# مالي زده کړه

- **پیل**
- **پېژندنه**
    - دا پرېزنټشن متحده ایالاتو ته نوي راغلي کډول له مالي او بانکي اساسي مفاهیمو سره اشنا کوي. د بېلګې په توګه کریډیټ سکور،قرض،له چل او فریب څخه ځانساتنه او نور
    - تاسې به زده کړئ چې څنګه خپلې مالی او بانکي چارې مدیریت کړئ، ځکه په متحده ایالاتو کې د ښه ژوند لپاره مالي او بانکي مدیریت ډېر مهم دي.
- **مالي زده کړې ولې مهمې دي؟**
    - هغوی چې متحده ایالاتو ته نوي‌راغلي دي،مالي زده کړه ورسره مرسته کوي چې د متحده ایالاتو مالي سیستم درک کړي،او له عامو تېروتنو څخه ځان وساتي او د خپلو پیسو په اړه اګاهانه پرېکړې وکړي.
    - دا چاره اوږدمهالی مالي ثبات پاوړی کوي او تاسې د دې جوګه کوي چې سپما وکړئ،له پور څخه ځان وساتئ او غوره فرصتونه رامنځته کړئ.

# ولې مالي زده کړه مهمه ده؟




**هغه ننګونې چې کډوال ورسره مخ کیږي:**

- پر ژبه د نه پوهېدا خنډ، له مالي سیستمونو سره ناآشنايي، او د اعتبار د مخينې (کریډیټ هسټري) نه شتون زیاتره هغه ننګونې دي چې نوي کډوال شوي ورسره مخ وي.
- مالي زده کړې د دغو خنډونو په لرې کولو کې له کډوالو سره مرسته کوي او نویو راغلیو کډوالو ته امکان ورکوي چې له دې سیستم څخه په اغېزناکه توګه ګټه واخلي.

**د مالي زده کړو ګټې**

- وګړي اګاه کوي چې ذخیره کولو، سپما کولو او پانګونې په اړه اګاهانه پرېکړې وکړي.
- د مالي زده کړو په مرسته کډوال هغه عملي مهارتونه زده کوي چې له مخې يې له پور اخیستلو څخه ځان ساتلی شي، د خپلو راتلونکو موخو لپاره سپما کولای شي، او د راتلونکي مالي خپلواکۍ لپاره د پلان جوړولو په برخه کې هم ورسره مرسته کولای شي.




# په واشنګټن ایالت کې کډوال

**په واشنګټن ایالت کې د کډوالو لپاره د مالي زده کړو زمینه، ننګوهنې او اړتیاوې**

په دې وروستیو کې واشنګټن ایالت ته ګڼ شمېر کډوال له بېلابېلو هېوادونو څخه لکه افغانستان، اوکراین، مرکزي امریکا او افریقا څخه راغلل. په متحده ایالاتو کې اکثر کډول له ټولنو سره د یو ځای کېدا به برخه کې له درېوو عمهد ستونزو سره مخ دي: له مالي سیستم سره نه اشنایي، د انګلیسي ژبې نه زده کړه او د یوې مناسبې دندې نه موندل.

**بنسټیزې ننګونې:**

**د ژبې ستونزه:** کډوال په بېلابېلو ژبو (لکه پښتو،اسپانیوي،سومالیي، عربي، او ..) خبرې کوي او اکثریت یې له انګلیسي ژبې سره یا هېڅ اشنایي نه لري او یا هم ورسره لږ اشنایي لري. همدا ستونزه د مالي سیستم په سمه توګه د نه درک کولو او په سمه توګه د کاري فورمو د نه ډکولو سبب کیږي.
**کارموندنه:** په متحده ایالاتو کې د کاري تجربې نه درلودل او دلته د بهرنیو تحصیلي سندونو نه منل یوه بله هغه ستونزه ده چې هغو دندو ته د کډوالو د رسېدو مخه نیسي چې مهارتونه یې ورسره ورته دي..
**له کولتور سره بلدتیا:** له نویو فرهنګي اصولو او تګلارو سره اشنایي (د بلګې په توګه له بانکي او مالي سیستم سره بلدتیا، د مالیاتو او بیمې له سیستم سره بلدتیا) معمولاً وخت نیسي.

**د مالي زده کړو اړتیا**

- په بېلابېلو ژبو د مالي زده کړو پروګرام چې د هرې ټولنې له کولتور سره سر خوري له ټولنې سره د کډوالو یو ځای کېدا لپاره ضروري دی. دا پروګرامونه باید پر یو لړ بنسټیزو موضوعاتو تمرکز وکړي لکه د بودیجې جوړونه،سپما،کرډیټ جوړول، او نور اړونده مالي مهارتونه.

# په متحده ایالاتو کې د بانکي سیستم درک




## له بانکونو سره اشنايي

**بانک څه شی دی؟**

- بانک یو مالي بنسټ دی چې ورکړل شوې پیسې ساتي، پورونه ورکوي،او یو لړ نور مالي خدمتونه هم تر سره کوي.بانکونه د دولت تر نظارت لاندې دي، د دې په خاطر چې خوندیتوب او باور یې ساتل شوی وي.
- په متحده ایالاتو کې بانکونه د لویوالي او د بېلابېلو خدمتونو د وړاندې کولو پر بنسټ ډلبندي کېږي. د بېلګې په توګه ملي بانکونه، سیمه ییز بانکونه، د پورونو اتحادیې او پرلیکه (انلاین) بانکونه.

**د بانکونو ډولونه:**

- **ملي بانکونه:** دا لوی او پیاوړي بانکونه دي چې د متحه ایالاتو په هر ګوټ کې پراخ مالي خدمتونه وړاندې کوي، لکه د امریکا بانک، د متحده ایالاتو بانک، ویلز فارګو بانک
- **د پورونو اتحادیې:** دا هم مالي موسسات دي چې له غړیو څخه یوه کمه اندازه فیس اخلي او پر سپما باندې خپلو غړیو ته لوړه فیصدي ګټه ورکوي.
**پر لیکه (انلاین بانکونه):** هغه بانکونه دي چې معمولاً پر لیکه (انلاین) فعالیت کوي، نسبتاً ښه ګټه سپما کوونکیو ته ورکوي او فیس یې هم نسبتاً کم دي.

# ولې باید له بانک څخه ګټنه وکړو؟

### د کریډیټ مخینې او کریډیټ سکور جوړولو په پار

د بانکي حساب پرانیسته لومړنی ګام دی چې تاسې یې د کریډیټ مخینې او کریډیټ سکور په لور اخلئ. په دې سره تاسې کولی شي د پور اخیستلو لپاره،د کور د کرایه کولو لپاره او یا هم د کور د ایستلو لپاره اقدام وکړئ.

### آسانه او چټک خدمتونه

د ATM ماشین ته لاسرسی، په انلاین بڼه او یا هم د موبایل اپلیکیشن له لارې د بانک خدمتونو ته لاسرسی.

همدارنګه په ډېرې اسانۍ کولای شئ پیسې ولیږئ،خپل بېلونه ورکړئ او په دې ډول د خپلې پانګې او لګښتونو حساب هره شېبه وګورئ.

### د پیسو خوندیتوب

په متحده ایالاتو کې د فدرال یا دولتي بیمه په یو بانکي حساب کې تر ۲۵۰زره ډالرو پورې بیمه کوي.

که چېرې بانک له کومې ستونزې سره مخ شي، ستاسې پیسې نه ورک کېږي، بلکې بیمه دي او خوندي دي..

# بانکي حساب پرانیستل

## د بانکي حساب د ډول ټاکنه

معمولاً دوه ډوله بانکي حسابونه بانکونه لري، یو ته یې جاري بانکي حساب وايي چې د ورځنیو لګښتونو لپاره وي او بل ته یې هم د سپما حساب وايي چې د سپما او زېرمه کولو لپاره وي، تاسې کولای شئ وټاکئ چې کوم حساب پرانیزئ. بانک د جاري حساب کارونې لپاره تاسې ته ډیبیټ کارت درکوي، خو د سپما د حساب ګټه ستاسې په حساب کې د وخت په تېرېدو سره حمع کیږي.

## اړین اسناد

بد حساب د پرانیستې لپاره بایده دي چې د پېژندګلوۍ و سند ولرئ، معمولاً پاسپورټ یا هم د ډریوای لایسنس همدارنګه داسې یو سند باید وښیئ چې ستاسې د استوګنې ادرس ترې تثبیت شي لکه د برق بل،د کور قرارداد او د کډوالۍ سند

# د بانک خدمتونه او فیسونه

## عام فیسونه

- میاشتنی فیس: ځیني بانکونه د دي لپاره چي ستاسي حساب په کي فعال پاتي شي، دا فیس اخلي.
- د ای تي ایم فیس: که چیرې تاسي د اړونده بانک پرته له بل آی تي یم څخه ګټه اخلئ نو تاسي باید فس ورکړئ.
- که چیرې له هغو پیسو څخه اضافه ولګوئ چي په بانک کي يي لرئ، نو تاسي نه فیس اخلئ.

## د فیس کمول

- هڅه وکړئ داسي بانک ومومئ چي وړیا حسابونه پرانیزي او فیس نه اخلي.
- باید له هغو پیسو څخه ډېرې مصرف نه کړو څومره چي بانک کي لرو، باید د بانک په اپلیکیشن کي د اګاهی یو افشن وټاکو، چي که چېرې زموږ لګښتونه زموږ له پیسو ډېرېږي، چي موږ ته د میسیج یا هم ایمیل له لارې خبر راکړل شي.

# د بانکي خدمتونو ډولونه

## له ډیجیټل بانک څخه ګټنه (استفاده)

د موبایل اپلیکشن او پر لیکه مدیریت تاسي ته دا امکان درکوي چې خپل حساب ته لاسرسی ولرئ. خپل بیلونه ورکړئ، پیسي ولېږئ، دا کار نویو راغلیو کډوالو سره مرسته کوي په ځانګړې توګه هغوی چې د بانک له حضوري خدمتونو سره اشنا نه دي.

## د بانکي حساب ډولونه

**جاري حساب: دا یو عام بانکي حساب دی چې تاسي ترې خپل ورځني لګښتونه کولای شئ، همدارنګه خپل بیلونه ترې ادا کولای شئ.**

**د سپما حساب: په دې حساب کې تاسي خپلې پیسي سپما کولای شئ چې د وخت په تېرېدو یې بانک ګټه تاسي ته درکوي.**

**د پیسو د بازار حساب:** په دې حساب کې په پیسو درلودلو سره تاسي ته ډېره ګټه درکول کېږي. خو په دې حساب کې شوني ده له تاسي یوه معلومه اندازه پیسي وغواړي یا مو د پیسو په ایستلو او کارولو نور محدودیتونه وضعه کړي.

# کریډیټ او کریډیټ راپور

## د کریډیټ پېژندنه

- کریډیټ له بانک څخه د پیسو په پور اخیستلو ته وایي په دې شرط چې د بېرته ورکولو ژمنه یې وشي. البته بانک له پوروړي څخه د یاد پور ګټه هم اخلي. کریډیټ په درلودلو سره تاسې د بانک د ځانګړي کارت په واسطه هر څه پېرلی شئ او پیسې یې بیا په کراره بانک ته ورکړئ.

## ولې کریډیټ مهم دی؟

- د کریډیټ راپور، د کریډیټ مخینه او د کریډیټ سکور چې هر څومره ښه وي،په هماغه اندازه د ډېرو پیسو په پور اخیستلو فرصت شخص ته برابروي،همدارنګه د پور پر سر د ګټې نرخ به یې هم کښته وي.
- په ښه کریډیټ سره تاسې کولای شئ کور په کرایه کړئ، موټر واخلئ او یا هم کور واخلئ.

# د کریډیټ ډولونه

## قسطي کریډیټ (پور)

په دې ډول پور کې تاسې له بانک یا پور ورکوونکي بنسټ څخه یوه مشخصه اندازه پیسې په پور اخلئ او د هغو پیسو یو څو مشخص اندازه قسطونه په مشخص وخت کې یادې بانک ته سپارئ. د موټر اخیستلو لپاره پور، د کور اخیستلو لپاره پور او د زده کړو کولو لپاره پور له دې ډول کریډیټ یا پورونو څخه ګڼل کیږي.

## دوراني کریډیټ (پور)

دا ډول کریډیت یا پور تاسې ته اجازه درکوي چې تر یوې مشخصې اندازې پورې د بانک له خوا درکړل شوي پور نه ګټه واخلئ. او د هغو پیسو له بېرته ورکولو وروسته کولای شئ هغه اندازه پیسې بیا بیا وکاروئ..

# د کریډیټ د راپور درک

## د کریډیټ راپور څه شي دی؟

**د کریډیټ راپور هغه سند دی چې د شخص د پور اخیستلو او بېرته ورکړې ټوله مخینه په کې ذکر وي. په دې راپور کې د پور اخیستل، د هغې د بېرته ورکړې، د کریډیټ کارت او که تاسې په کومه بېرته ادايينه کې تاخیر کړی وی،ټول شامل وي.**

## څنګه د خپل کریډیټ راپور تر لاسه کړو؟

په متحده ایالاتو کې تاسې حق لرئ چې په هر کار کې یو ځل تاسې یو له لاندې درېوو ادارو څخه په وړیا ډول د خپل کریډیټ راپور تر لاسه کړئ: **Equifax**، **Experian** و**TransUnion**.

تاسې کولای شئ خپل دغه راپور په انلاین بڼه له **AnnualCreditReport.com** وېبپاڼې څخه تر لاسه کړئ.

# کریډیټ سکور او اهمیت یې

## کریډیټ سکور څه شی دی؟

کریډیټ سکور یو عدد دی چې ستاسي د پور تر لاسه کولو اعتبار ښیي. دا عادت معمولاً له ۳۰۰ څخه تر ۸۵۰ پورې وي. څومره چې ستاسي کریډیټ سکور ۳۰۰ ته نږدې وي، د پور تر لاسه کولو اعتبار مو کم دی او څومره چې ۸۵۰ ته نږدې وي د پور تر لاسه کولو اعتبار مو لوړ دي.

## پر کرېډیټ سکور اغېزناک عوامل

**د بېرته ورکړو مخینه: که چېرې تاسې د بانک پور چې واردمخه مو لګولي وي،په خپل وخت بېرته ورکړئ، دا ستاسي په کریدیټ سکور مثبت اغېز کوي.**

**تر کومې اندازې له خپل کریډیټ څخه ګټه اخیستلی شيء؟**

**هڅه وکړئ چې د کریډیټ لګښت مو همېشه له ۳۰٪ څخه کم وساتئ.**



# د کریډیټ جوړول او مدیریت

## د کریډیټ مدیریت

هڅه وکړئ چې په لومړي سر کې د پور هغه برخه چې باید ادا یې کړئ، ادا یې کړئ.

د پور د ادایني تر وخت دمخه خپل ځان ته یوه یادونه (نوټیفیکیشن) تنظیم کړئ چې له جریمې څخه ځان وساتئ.

## د کریډیټ جوړول

هڅه وکړئ چې له یو عادي او معمولي کریډیټ کارت نه یې پیل کړئ. یا هم کولای شيء چې د کورنۍ د یو غړي سره چې د کریډیټ کارت درلودونکی دی ځآن د کاروونکي په توګه ثبت کړئ. **هڅه وکړئ چې د پور برخې په خپل وخت ادا کړئ او همېشه خپل د پور لګښت له ۳۰٪ څخه کم وساتئ.**

# د هویت د غلا په مقابل کې ساتنه



## د هویت غلا څه شی ده؟

د هویت غلا په دې مانا چې یو څوک ستاسې له شخصي معلوماتو څخه ناوړه ګټه اخلي او پرې له بانک نه پور اخلي. یا هم کله کله ستاسې د معلوماتو په کارولو سره ستاسې له بانک نه ستاسې پیسې پټوي.



## د هویت له غلا څخه څه ډول مخه ونیسو؟

همېشه له سختو کوډونو او پاسورډونو څخه استفاده وکړئ. همېشه خپل کریډیټ راپور وګورئ تر څو له مشکوکو فعالیتونو خبر شئ او په وخت اقدام وکړئ.

# بودیجه جوړول او د پیسو مدیریت

## بودیجه جوړول ولې مهم دي؟

## د بودیجې جوړول ګټې

- بودیجه جوړول تاسې سره مرسته کوي چې خپل ژوند د خپل مالي توان په محدوده کې عیار کړئ. همدارنګه له پور څخه ځان وساتئ او د ناوړه شرایطو لپاره سپما وکړئ.

## مالي ثبات

- بودیجه جوړول درسره مرسته کوي چې خپل عواید د خپلو اړتیاوو له مخې وکاروئ لکه د کور کرایه، خوراک،لباسونه،بیلونه او ... او د غیرضروري لګښتونو څخه ځان وساتئ.

# د بودیجې مدیریت

1

### د پانګو ډلبندي

- خپل عواید او پانګه د خپلو ضروري لګښتونو (لکه د کور کرایه،د اوبو او برق بېلونه، د خوراکي موادو اخیستل) او همدارنګه په غوښتنو لکه سرګرمي،رستورانت ته تګ ووېشئ. دا کار درسره مرسته کوي چې پیسې مو چېرته خومره مصرفېږي؟

2

### د عوایدو او پانګې حساب

- څه وکړئ چې هره میاشت خپل ثبات او غیرثابت عواید ثبت کړئ تر څو معلومه کړئ چې هره میاشت مو لګښت او عاید سره څه توپیر لري.



# د بودیجې جوړولو لارې او وسایل

**د موبایل لارې او وسایل (اپلیکیشنونه)**
کولای شئ له لاندې پروګرامونو څخه ګټه واخلي:

Mint، YNAB (You Need A Budget) یا GoodBudget له دې پروګرامونو څخه د خپلو عوایدو د ثبت او د خپلو لګښتونو د ثبت او تخصیص لپاره ګټه اخیستلی شي.

- **لاسي حساب:**
همدارنګه کولای شئ چې په خپل کمپیوټر کې د یو اکسل شیټ نه په ګټې یا هم د قلم او کتابچې په کارولو سره خپل عواید ولیکئ او بیا یې د خپلو لګښتونو لپاره تخصیص کړئ.

# د بودیجې جوړولو د ۳۰/۲۰/ او ۵۰ قانون

- 50% عواید د اړتیاوو لپاره وکاروئ لکه د کور کرایه، د برق او اوبو بېل،خواړه او د لېږد الېږد لپاره.
- 30% عواید د غیرضروري اړتیاوو لپاره وکاروئ لکه رستورانتونو ته د تګ لپاره،د سرګرمی لپاره او همدارنګه د سفر کولو لپاره.
- 20% عواید د سپما لپاره وکاروئ.



# د پیسو سپما

**سپما ولې اړینه ده؟**

د سپما په کولو سره تاسې ډاډه کېږئ چې په اړینو شرايو کې لکه د ناروغی پر مهال، له دندې څخه د ګوښه کېدا پر مهال او یا هم د نورو بیړنیو حالاتو کې تاسې خپل لګښتونه پوره کولای شئ.

**څنګه کولای شو په اغېزناکه توګه سپما وکړو؟**

موخه وټاکئ چې لږ تر لږه د خپل لګښت له ۱۰ څخه تر ۲۰ سلنو پورې سپما کړئ. د سپما لپاره کولای شئ چې په خپل بانکي حساب کې د سپما یو حساب هم پرانیزئ.



# د عوایدو زیاتوالی او د لګښتونو کموالی



## د لګښتونو کموالی

د دې لپاره چې لګښتونه مو کم کړئ، هڅه وکړئ چې د رستورانت پر ځای به کور کې اشپزي وکړئ او خپل پاخه کړي خواړه وخورئ. د خپل شخصي موټر پر ځای کولای شئ له عمومي ټرانسپورټ نه ګټه واخلئ. له غیر ضروري سبسکرایشنونو څخه تېر شئ.



## د عوایدو زیاتوالی

د دې لپاره چې عواید مو زیات شي، همېشه د خپلې اصلي دندې تر څنګ یوه فرعي دنده هم ولرئ. د Upwork یا Fiverr په څېر وېبسایټونه انلاین کاري فرصتونه برابروي.

# د پور مدیریت

- د کریډیټ کارت د پور مدیریت
  - هڅه وکړئ چې هغه پورونه اول ادا کړئ چې سود یې لوړ وي.
  - که مو له وسه پوره وي له خپلې اندازې زیات پور ورکړئ، په دې ډول به له سود نه ژر خلاص شئ.
- له هغو پورونو ډډه وکړئ چې ورځنی سود لري
  - هغه پورونه چې ورځنی سود لري تر ټولو لوړو لګښتونو کې حسابېږي، هڅه مه کوئ دغسې پورونه واخلئ.



# References (1)


1. Annuity.org, 2025. *Financial Literacy for First-Generation Americans*. [online] Available at: https://www.annuity.org/financial-literacy/first-generation-americans/ [Accessed 31 January 2025].
2. SwitchboardTA, 2025. *Resource Collection: Financial Empowerment for Refugees and Newcomers*. [online] Available at: https://www.switchboardta.org/resource-collection-financial-empowerment-for-refugees-and-newcomers/ [Accessed 31 January 2025].
3. Redvive, 2025. *Financial Literacy for Immigrants: What I Wished to Learn in My First Year Living in Another Country*. [online] Available at: https://redvive.medium.com/financial-literacy-for-immigrants-what-i-wished-to-learn-in-my-first-year-living-in-another-e25f38a59bcc [Accessed 31 January 2025].
4. NCRC, 2025. *Money Talks: How Financial Literacy Education Can Transform the Lives of Second-Generation Immigrants*. [online] Available at: https://www.ncrc.org/money-talks-how-financial-literacy-education-can-transform-the-lives-of-second-generation-immigrants/ [Accessed 31 January 2025].
5. Remitly, 2025. *Financial Literacy for Immigrants*. [online] Available at: https://www.remitly.com/us/en/landing/financial-literacy-for-immigrants [Accessed 31 January 2025].
6. Rescue.org, 2025. *Financial Literacy and Empowerment: A White Paper*. [pdf] Available at: https://www.rescue.org/sites/default/files/document/1591/lg01jpmwhitepaperdigitalfinal.pdf [Accessed 31 January 2025].
7. NerdWallet, 2025. *American Financial System: A Guide*. [online] Available at: https://www.nerdwallet.com/p/finance/american-financial-system [Accessed 31 January 2025].
8. Porsesh Policy Research Institute, 2025. *Empowering Immigrants in Washington State through Data-Driven Research*. [online] Available at: https://prresearch.us/ [Accessed 31 January 2025].

# References (2)


9. IRC (International Rescue Committee), 2022. *Challenges Faced by Afghan Refugees in the U.S.* [online] Available at: https://www.rescue.org/article/challenges-faced-by-afghan-refugees [Accessed 31 January 2025].
10. WA Department of Social & Health Services, 2022. *Refugee Resettlement in Washington State*. [online] Available at: https://www.dshs.wa.gov/esa/refugee [Accessed 31 January 2025].
11. World Relief, 2022. *Financial Literacy Programs for Immigrants*. [online] Available at: https://worldrelief.org/seattle/ [Accessed 31 January 2025].
12. Refugee Women's Alliance (ReWA), 2022. *Financial Education for Immigrant Women*. [online] Available at: https://www.rewa.org [Accessed 31 January 2025].
13. WA State Financial Literacy Coalition, 2022. *Washington State Financial Literacy Initiatives*. [online] Available at: https://www.wafinancialliteracy.org [Accessed 31 January 2025].
14. Tacoma Community House, 2022. *Financial Literacy for Refugees in Tacoma*. [online] Available at: https://www.tacomacommunityhouse.org [Accessed 31 January 2025].

# مننه

پای

King County

PORSESH POLICY RESEARCH INSTITUTE
Fact-based Analysis & Solutions

Contact Number: 206-613-9926

Email Address: info@prresearch.us

@porseshresearch